# معراج، یادرسول الله ﷺ دعظمت عملي ثبوت

اصلاح نهایی گردید:

(فروغکړ)

کله چې په انساني نړۍ کې دسیاست، اقتصاد، حکومتولۍ، زده کړې، لوړو تحصیلاتو، انجنیرنګ اویامعمارۍ په برخو کې دهمدغو رشتو متخصصین پلان یاپلانونه جوړوي، نودوی دکار په ډګر کې دوه مهم پړاوونه تل په نظر کې نیول کیږي، عمومي هدف رغونه وي اوخصوصي هدف مشخصې پروژې، دکار عرصې، مجالونه اوډګرونه چې داهلو وګړو په وسیله ترڅارنې اومدیریت لاندې نیول کیږي اوترهغه پرمخ بیول کیږي چې دانول ډګرونه سره ونیول شي اوپه ټولیزه کې هغه میدان ترې جوړشي چې دعمومي هدف اصول، اساسات اومعیارونه پوره کړي او اصلي هدف ته د رسیدو لپاره دهیوادیانو فردفردته دلاسرسي فرصتونه مساعد کړي....

الله جل جلاله چې دانړۍ پیداکړه اوپه نړۍ کې یې ځمکه دانسانانو دژوندلپاره مساعده وګرځوله، نو دژوندد اصولو، آرونو، مناسباتو، حدودو، قوانینو اوضوابطو دعملي کولو لپاره یې له لنډمهالو او اوږدمهالو پروژو سره خپل پیغمبران واستول، ددغو ټولو پیغمبرانو دین (اسلام) و، دالله جل شانه حکمت داوچې دانساني فطرت دتکامل لپاره چې په تدریجي توګه به ترسره کیږي دزماني په بیلابیلو پړاوونو کې دهماغو وختونوله غوښتنو سره سم مطلوب پلانونه اونقشې خپلو همدغو استازوته وسپارل اوله حضرت آدم علیه الصلوة والسلام بیا د رسول کریم ﷺ دنبوت ترمهاله دبلنې اودعوت لړۍ پیل شوه.

سیرت پوهان وایي چې دمعراج هدف سربیره پردې چې رسول الله ﷺ دزده کړې او الهي رازونو ښوول و، یوهدف یې دا هم و چې دمحمد ﷺ شخصیت ترټولو کایناتو بردی اوالله جل جلاله ته ددغومره قرب مستحق دی، چه دمعراج وسیله رسول الله ﷺ مسافر، اوجبریل ئې دسفر ملګري وګرځوه اوهدف الله جل جلاله دی. چې په دغه قرب کې دټولو کایناتو اسرار ورښیي، دځینو پیغمبرانو له ارواح سره لیده کاته کوي اودالله جل جلاله په ملکوت کې دهغه له ټولو ښکرو سره آشنا کیږي. که چیرې دمعراج په عظیمه پیښه کې د رسول الله ﷺ دمقام داوچتوالي مقصد نه واي نغښتي نو الله تعالی کولای شواي چې دوحې په وسیله وحی دمعراج ټول اسرار ورالقاء کړي واي، مګر الله غوښتي وو چې له یوه پلوه دخپل حبیب اوچت مقام نړیوالو ته ورښیي اوله بله پلوه بلاواسطه یې دنبوت، الوهیت او کایناتو په اسرارو پوه کړي، نو ځکه دمعراج واقعه رامنځ ته شوه، د رسول الله ﷺ په معجزو کې خوراستره معجزه یوه هم همدغه دمعراج پیښه وه، ځکه په یوه شپه کې ترسره شوه چې پردې شیبې باندې په خپله د رسول الله ﷺ احادیث هم شاهد دي، قرآن کریم په دې اړه فرمایي: ﴿ **سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَا** .... ﴾ الإسراء: ۱ له هرعیبه پاک دي هغه ذات چې دشپې په لږه برخه کې یې خپل بنده له مسجدالحرام نه ترمسجدالاقصی پورې سیاحت ته یووړ، هغه مسجد اقصی چې دهغه شاوخوا سیمه موله برکتونو ډکه کړې (هدف په دې سیاحت کې داوچې) موږ خپل بنده ته دخپل قدرت نښې نښانې او رازونه وښیو، بې شکه چې الله جل جلاله ترټولو ښه اوریدونکی اوښه لیدونکی دی....

په روایاتو کې راځي چې دمعراج په همدغه لومړي مقام کې رسول الله ﷺ سربیره پردې چې دالله جل جلاله دقدرت ډیرې پټې نښې نښانې ولیدلې اودالوهیت ملکوت ورته ظاهر شول، پیغمبرانو دده په امامت کې دوه رکعته لمونځ هم اداکړو، همدا وجه ده چې دامام الانبیا لقب هم ورکړشوی دي، دمعراج له دې پړاونه وروسته بیا د رسول الله ﷺ خورا اوږده احادیث دآسمانونو په لوړدده سفر او په آسمانونو کې له پیغمبرانو سره ملاقاتونه، ددوزخیانو ډول، ډول حالات، دجنتونو ښکلا، ددوزخ سخت عذابونه، دملایکو تسبیح اووظایف په ګوته کوي چې دهغه ټولو احادیثو یادونه دلته ناشونې ځکه دي چې ځان ته مستقل کتاب غواړي، لکه چې حدیث پوهانو کتابونه هم پرې لیکلي دي....

تردې احادیثو وروسته قرآن کریم دمعراج دوهم پړاو معرفي کوي: (وګورئ انجم: 1-8 آیتونه)

په سترګو مې کله چې تاسې ... 

په ستوري قسم چې کله پریوځي.

چې ستاسې ملګري (رسول الله) نه بې لارې شوي او نه په غلط عقیده دی، او نه د خپلو نفساني غوښتنو پر بنا خبرې کوي، دا له وحې پرته بل څه نه دي چې ورته رالیږل کیږي ډېر ځواکمن ملک (جبرئیل) ورښودلي دي چې د ځواک څښتن دي، نو چې کله سیده ودرېد او دی د آسمان پر اوچتو څنډو او بیا رانږدې او کوز شو، نو لکه د دوو لیندیو د فاصلې د اندازه او یا تر هغه هم په لږه فاصله کې ورنږدې شو، نو په دغه وخت کې الله ﷺ خپل بنده ته یې وحې وکړه، څه یې چې وحې کړه: څه چې د پیغمبر ﷺ زړه ولیدل په هغه کې درواغ نه و، آیا په هغه سره په هغه څه کې ناندرې وحې چې دي یېویني.

او په یقین سره چې هغه یې په وروستي کیوتو کې هم ولیدل دو رسنی بیرې وني سره چې له هغې سره جوخت د اوسیدو جنت دي، هغه مهال چې سدرة المنتهی یوې نښې رڼا پوښلې وه، نظري بلی خوانه وانه ړاوه او نه له حده تیر شو. (څه یې چې لیدلي ؤ واقعیت ؤ. یقیناً. د خپل رب ځینې سترې نښې نښانې ولیدی.)

د دې آیتونو نه په ډېر ګند ډول ثابتېږي چې رسول الله ﷺ د بیرې وني ته نږدې چې وځای د جنت په څنګ کې دې له حضرت اقدس تعالی سره د دوو لیندیو په اندازه نږدې شوي بلکه له هغه نه هم زیات....

(ورفعنالك ذکرك) که میان عالم بالا در صف صف ملایکه وارواح اولین ها و آخرین ها قرب حضرت رسول الله ﷺ له الله ﷻ سره شهرت وموند. آیا تر دې پورته د بنده لپاره بل مقام شته؟!

دا ملاقات هم معجزه نه ده؟!

بدیع الزمان نورسی چې هم عالم دي، هم رباني عارف او هم سید، په دې اړه لیکي:

(اوس نو هغه خدای چې د ځمکې او آسمانونو واکمن دي او د (کن) د حکم ځواک لري، حتمي خپلواک مولا او نه فنا کیدونکی مالك دي، پر ټولو کایناتو یې حکمراني چلیږي. په کایناتو کې له ذرې تر کهکشانونو او آسمانونو پورې چې څه مخلوق شته، الله تعالی د هغوي خالق او واکمن دي، په هره څانګه کې د هغه په قوانینو، ضوابطو او احکامو باندې په منظم ډول کیږي او ټول ورته (طوعاً او کرهاً) تسلیم دي.

له همدې لامله د دې کایناتو په هدف او ستروپایلو د پوهیدو لپاره، په هره کچه او هره کړۍ کې د عبادت د فریضې د ګواه کیدو لپاره، د یو ستر سلطنت د خپلواکۍ د مشاهدې لپاره او پر ټولو هغو اسرارو، رموزو، قوانینو او کړو لپاره بنده ته ضروري دي چې آفاق او انفس د واړه وجاجوي، تر هغه چې الله ﷻ خپل غوره بنده ګان د دې کار لپاره د عرفان تر وروستي منزله پورې ورسوي (له دوو لیندیو له واټن هم په لږه فاصله کې) چې هلته له عظیم مولا سره ملاقات کولی شي او دا د همدغه معراج حقیقت دي، لکه څنګه چې د عامو خلکو په ذهن کې د تخیل چټکه څپه او په زړه ونو کې د برق په شان د رفتار تصور کړځي، همدغه ډول د الله تعالی پر نښتې (چې جسمونه یې له نور څخه جوړ دي) له عرشه تر فرشه د ستر کوپه رب کې د تګ راتګ صلاحیت او استعداد لري.... همدغه شان به رسول الله ﷺ د برق له رفتاره په خورا چټکۍ سره د پنځوسو کالو فاصله ووهي او د محشر له میدانه به د جنت قلمرو ته ورسیږي، په دې ډول به د رسول کریم ﷺ مبارك جسم له خپل اعلی روح سره د الله تعالی حضور ته د رسیدو لپاره سفر وکړي، ځکه چې د هغه جسم د روح ټول استطاعت او صلاحیتونه لري او د خپلو فرایضو د تر سره کولو ټول وسایل هم، ځکه د هغه روح ممتاز او ټولې ورتیاوې لري اوس بنایي منکرینو ته ووایو: څوك چې الله او د الله پیغمبر نه مني، پر معراج هم عقیده ونلري.. په کایناتو کې موجود ټول مخلوقات او کیدونکي کړنې دیو پر لپسې خلقت شاهدي ورکوي، د یو منظم کار د انجام لپاره تل یو کارمند دیو هدفمن کتاب لپاره یو غښتلي لیکوال او د یو ښایسته انځور لپاره یو هنرمند ته اړتیا لري چې په همدغه دلیل په دې ویړو کایناتو کې د عقلاني او هدفمندو چارو لپاره هر وم وکاریګر ته اړتیاده....

دالله تعالی دمعرفت اوپیژندګلوي لپاره چې په څه ډول يې داکاينات پيداکړي، دکوم هدف لپاره اودکوموچارودتحقق په هدف؟ ارين دي چې يوکارپوه دخلکودپوهولولپاره په کاروکومارل شي اوداکارپوه دکارله پيله مخکې، دکارپه جريان اوپای کې دکارفرماله ارښنو اسراروخبردي..، نودمعراج له اهدافوڅخه يوهدف همدااوچې رسول کريمﷺ ته هغه نقشې، پلانونه او پروګرامونه په لاس ورکړي چې تطبيق به يې ددنياترپايه پورې دبشرې ټولنودسوکالی تضمين کوي!

لکه څنګه چې درسول اللهﷺ معراج يوه معجزه ده، دهغه دژوندټولې کارنامې يامعجزه دي اويامعجزې ته ورته دی، څکه قرآنکريم په دي څه کم پنځلسوپيړيوکې ثابت شوچې په هرلحاظ معجره ده اوپه رسول کريمﷺ دهمدغه قرآن عملی نمونه لکه چې ام المؤمنين عايشهرضی الله عنها نه پوښتنه وشوه: (درسول اللهﷺ اخلاق څنګه وو؟) هغې په ځواب کې وويل: دهغه اخلاق(قرآن) و...

استادسيدقطب دنی ظلال القرآن مفسراوداسلام دلارې شهيدمبارزچې کله درسول اللهﷺ روزنی ته اشاره کوي نووايي چې رسول کريمﷺ ژوندي قرآنونه روزلي وو، کله به چې ددوي فاتح لښکرپرکوم هيوادسوبمن شول، نوډيروبه ددوي داخلاقوپه ليدواواحساس اسلام ته ګروهمن کيدل...

دهمدغی ستړې معجزي برکت وچې دصحابه وپه وجودکې داوچتواخلاقوپه تمثيل سره راڅرګنديدله اوخلك به ډلې ډلې داسلام مقدس دين ته مخه کوله اوډلی ډلی به مسلمانيدل، ان تردې چې داسلام په تاريخ کې داسې پيښې هم لولوچې کله مسلمان فاتحين ديوې سيمې له ايلولونه وروسته بلې سيمې ته ورتلل نوداايلوشوسيمواهل کتاب بت پرستان اودنوروکفري افکاروپلويان به ورغلل اوهغوي ته به يې عذرونه کول چې موږ يوازې مه پرېږدئ! له ظالمانوموږ ژغورلو، زموږحقوق موله هغوي نه واخيستل، آرام ژوندلرو، خوکه تاسې لاړشئ، نودغه ظالمان به بيازموږغوښې خوري، هغوي به بياداورکاوه چې که موږځونوزموږنايبان به دلته پرتاسې حکومت کوي اوظالمان نورنه پرېږدي چې پرتاسې ظلم وکړي....

په دې دين کې هيڅ انسان په بل غوره توب نه لري، دغوره توب يوازيني معيارتقوی ده، جنس، رنګ، قوم، نسب، سيمه اونور جاهلي ارزښتونه په دې دين کې ارزښت نه لري اوداقومونه اوقبيلې چې ديوې مور اويوپلارزيږنده دي، صرف دتعارف اوپيژند ګلوي لپاره دي...

له همدې لامله اسلام چې څومره ځمکې فتح کړي دجګړې نه مخکې يې په ښو اخلاقوفتح کړي دي، چې دلږې څنبځ هيوادونه يې ښې بيلګې دي دمثال په ډول اندونيزيا، برمااوځيني نوروهيوادونوکې چې هلته مسلمان لږکې موجوددي دعربو سوداګرودتګ راتګ پرمهال دهغوي دعملې اخلاقوپه برکت اسلام ته ګروهمن شوي دي...

داوه درسول کريمﷺ درسالت يوه بله معجزه.